# نوزېبېلې او درې ويښتان

Tessa Welch
Wiehan de Jager
Darakhte Danesh
3
پښتو ps

په ډېر پخوا زمانو کې درې نجونې د لرګیو را ټولولو لپاره دباندې ووتلې.

دا چې ورځ ګرمه وه، نو دوی د کلي لاندې سیند ته ولاړې، چې ولامبي. دوی د اوبو منځ کې لمبلې او لوبې کولې.

ناڅاپه د دوی فکر ته راغلل، چې ناوخته دی نو په چټکۍ سره بیرته د کلي په لور روانې شوې.

هغوی کور ته نږدې شوې وې چې نوزیبیلې خپل لاس پر خپلې غاړې کېښود، او ګوري چې خپله غاړه کۍ یې هېره کړې ده. هغې خپلې ملګرو ته وویل: هیله کوم له ما سره راشئ! خو هغوی وویل:" ډېره ناوخته ده".

نو نوزیبیلې سیند ته یوازې ولاړه، خپله غاړه کې یې پیدا کړه او په چټکۍ سره د کور په لور روانه وه چې په تیارو کې ورکه شوه.

په لاره کې يې يوه روښنايي وليده چې له يوه کوچني کور څخه راوځي. هغې(نوزيبېلې) د روښنايي په لور ورغله. يوه دروازه يې ومندله او ويې ټکوله.

عجیبه دا وه چې د نوزېبېلې لپاره یو سپی ور خلاص کړ او ویې ویل: ته څه غواړې؟ نوزېبېلې وویل: زه ورکه شوې یم او د خوب لپاره ځای ته اړتیا لرم. سپي وویل: دننه راشه، کنه خورم دې! نو نوزېبېلې دننه ورغله.

وروسته سپي وويل: زما لپاره خواړه پاخه کړه! هغې وويل: مګر ما د سپي لپاره هېڅکله پخلی نه دی کړی. سپي وويل: پخوې يې يا ودې خورم! نو نوزيبېلې د سپي لپاره خواړه چمتو کړل.

وروسته سپي وویل: زما لپاره د خوب ځای تیار کړه! نوزیبیلپ ځواب ورکړ، ما د سپي لپاره هېڅکله د خوب ځای نه دی تیار کړی. سپي وویل: ځای تیاروې یا ودې خورم! نو نوزیبیلپ د خوب ځای هم تیار کړ.

هره ورځ نوزېبېلې مجبوره وه چې خواړه پاخه کړي، جارو وکړي او د سپي لپاره جامې ومينځي. بلاخره يوه ورځ سپی وويل:
نوزېبېلې، زه نن د ملګرو ليدو ته ځم. مخکې له دې چې زه بېرته راشم، کور جارو کړه، خواړه پاخه کړه او زما کالي ومينځه.

څنګه چې سپی ووته، نوزېبېلې د خپل سر څخه درې ویښتان را واخستل. هغې یو ویښته د کټ لاندې کېښود، یو یې د ور تر شا کېښود او یو یې په جونګړه (کلبه) کې کېښوده، او په ډېره چټکۍ سره خپل کورته په منډې ولاړه.

کله چې سپی راغئ، نو نوزېبېلې یې لټوله او غږ یې وکړ: نوزېبېلې، چېرته یې؟ لومړني ویښته وویل، زه دلته یم د کټ لاندې، دوهم وویل زه دلته یم د ور شا ته، دریم وویل زه دلته یم په جونګړه (کلبه) کې.

وروسته سپی پوه شو چې نوزېبېلې هغه سره چالاکې کړې ده. نو تر کلي پورې په منډه منډه راغئ. مګر د نوزېبېلې ورور له غټې لرګي سره په تمه ولاړ و، سپي چې د نوزېبېلې ورور ولید، بېرته وګرځېد او لرې ولاړ. نور تر اوسه لا لیدل شوی نه دی.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## نوزيبيلې او درې وينبتان


Tessa Welch
Wiehan de Jager
Darakhte Danesh


CC BY